

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

پښتو ناول

# مچکه

## لیکوال: بختیار نیازی

ketabton.com - The Digital Library

**ټول حقونه د لیکوال په حق کې محفوظ دي د نشر کولو اجازه هر مینوال یي لري.**

**ضابطه:**


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | مچکه پښتو ناول |
| صنف | اول |
| لیکوال | بختیار نیازی |
| کمپوزینګ او ډیزاین | صمیم خاموش |
| نشریدو کال | 1405 |
| د نشریدو ځای | په انلاین ډول |
| اړیکو شمیره | 0703158204 |


**نوټ: د کتاب د ترلاسه کولو لپاره  تاسو کولای شی د کتاب لیکوال سره په تماس کې شی .**

**د لیکوال نشر شوي کتابونه:**

| | | |
|---|---|---|
| ستا په لیدو  باندې نه مړیږم | شعري ټولګه | چاپ شوی |
| پل مې په پاخه سړک کې وتی دی | شعری ټولګه | چاپ شوی |
| دیکتاتور پلار | ناول | انلاین نشر شوی |

ketabton.com - The Digital Library

# ډالۍ

د پښتو ادب د هغو رښتينو
خدمتګارانو، شاعرانو او
ليکوالانو پاکې وينې ته؛ چې
په خپلو قلمونو او وينو يې د
خپل کلتور او پښتو په لاره
کې تر ټولو لويه قرباني
ورکړه!

ketabton.com - The Digital Library



زمــــوږ کــــور د ننگرهـــــار پـــــه بهســـــودو کــــې و، د ماسپښــــین درې بجــــې وې. بالښــــت تــــه مــــې ډډه وهلــې وه، د چــای پیالــه مــې لاس کــې وه، تلیفــون تــه مــې زنــگ راغــی، چــای نــه مــې غــړپ وکــړ، پیالــه مــې کېښــوده، جیــب تــه مــې لاس کــړ، تلیفــون مــې راوویســـت پـــه پـــرده یـــې د عرفـــان نـــوم ښـــکاریده. اوکـــې مـــې کـــړ: ســـلام عرفانـــه! ښـــه یـــې؟ وعلـــیکم افسـره! شـکر دی زه ښـه یـم، تـه ښـه یـې؟ شـکر دی. عرفانـــه! څنگـــه دې یـــاد کـــړو؟ زه نـــن ننگرهـــار تـــه د یـو کـار لپـاره راغلـی یـم. د مـازیگر تـر څلـورو بجـو اوزگـــاریږم، ماښـــام ســـتا خواتـــه درځـــم. پرویـــز، نورلحـق، او سـاحل هـم راوغـواړه! بیگـا تـه بـه گـپ ولگـــوو! ســـمه ده پخیـــر راشئ! زه هغـــوی تـــه هـــم همــــدا اوس زنــــگ وهــــم. ملگــــري ماښــــام زمــــوږ حجـرې تـه راټـول شـول. عرفـان چـې لـه خـولې ډېـر چالاکــه، ټــوکي هلــک و، د شــپې تــر ناوختــه یــې پــه

ketabton.com - The Digital Library



ټولـو ملګـرو ملنـدېږ ووهلـې! ډېـر یـې تنـګ کـړو! ټـوکې بـه یـې هـم پـه مـوږ کـولې ، خنـداګانې بـه هـم مـوږ ورتـه کـولې، زمـوږ ورسره ساعت تېـر و، د عرفـان پـه ټوکـو ټکـالو، زمـوږ پـه خنـداګانو د شـپې یـوه بجـه شـوه. نورلحـق وویـل: خـدای ج دې معـافې وکـړي ډېـر مـو وخنـدل راځئ چـې نـور ویـده شـو! ټولـو د خـوب پریکـړه وکـړه، بیسـترې مـو سـمې کـړې، پکـې وغځېـدو. خـو لـه ویـده کیـدو مخکـې مـو دا پریکـړه وکـړه! چـې سـبا بـه لـه عرفـان سره لغـمان تـه ځـو! ځکـه ډېـر وخـت کیـږي چـې د لغـمان لـه منظـرو نـه مـو خونـد نـه دی اخیسـتی. همداسـې مـو وکـړل! د سـهار لـه ناشـتې وروسـته لـه عرفـان سره د لغـمان پـه طـرف وخوځېـدو! لـس بجـې مـو د لغـمان ښـار تـه ځـان ورسـوه. لـه مـوټره ښـکته شـولو، لـه لـږ پیـاده مـزل وروسـته د الیشـنګ هـدې تـه ورسـیدو. یـوې سراچـه مـوټر کـې

ketabton.com - The Digital Library



کیناســـتو، د الشـــنگ پـــه خـــوا روان شـــولو. لـــه څلویښــت دقیقــو مــزل وروســته مــوټر لــه پاخــه ســړکه خــام ســړک تــه د عرفــان دي د کــلي پــه خــوا تاویــده چـــې عرفـــان غـــبږ کـــړ! اســـتاده ودریـــږه! مـــوټر ودریــده، عرفــان مــوږ ښــکته کــړو، مــوږ پــه حیرانتیــا وویـــل: کـــور مـــو لکـــه چـــې دلتـــه راوړی ؟عرفـــان وخنــدل! نــه راځئ چـــې لـــږ چکـــر درکـــړم، پــه خــام ســړک کــې هســې هــم مــوټر ګړبیــږي! دا پــرې ښــه ده چـــې د خـــام ســـړک لاره پیـــاده ووهـــو د دې ســـیند پـــه غــاړه بــه لاړ شــو. منظــره بــه هــم وکــړو، بــل پیــاده تـــګ د صـــحت لپـــاره ګټـــور دی. ورسره روان شـــولو، لــه دې ځایــه د عرفــان دي تــر کــوره پیــاده تقریبــاً نـــیم ســـاعت لاره وه. د ســـیند پـــه غـــاړه روان شـــولو، د شـــنو ونـــو ســـیوري تـــه ، ســـیند وړې،وړې څپـــې وهلـــې، مـــوږ لـــه منظـــرو خونـــد اخیســـته. تـــر دې مخکــې چــې د عرفــان دې کــلي تــه ورســیږو د مامــا

ketabton.com - The Digital Library



گانو کلی یې راته. عرفان ماما نه درلوده، خو د دې کلي هر تن ته یې ماما ویل. له څو شیبو مزل وروسته د عرفان د ماماګانو کلي ته ورسیدو. د کلي په مینځ کې ماشومانو توشلې کولې، یو دیوال ته دوه ځوانان تکیه ناست و، غوږې یې کولې، د عرفان له سلام اچولو نه مخکې یوه ځوان عرفان ته غږ کړ د مچکې مسیه(لمسیه) ښه یې؟

موږ عرفان ته په حیرانتیا وکتل، د عرفان رنګ پیکه واوخت،موږ پوه شو چې دا په عرفان کومه مسخره ده. په کړس کړس مو وخندل. زموږ زړونه هسې هم عرفان ته ډک و، ټوله شپه یې په موږ مسخرې کړې وې. نور نو زموږ خولې ته دا خبره ولویده د مچکې مسیه ښه یې؟هر یو به په نوبت نوبت غږ کوه د نورو به د خنداوو کړسا

ketabton.com - The Digital Library



شـــوه. پـــه لاره لاره مـــو تـــر يوځايـــه عرفـــان مســـخره کړ.

بيـا مـــوږ سره پوښـــتنه پيـــدا شـــوه چـــې د دې خـــبرې تـــر شـــا څـــه کيســـه پرتـــه ده؟ عرفـــان مـــو وپوښـــته خـــو هغـــه ځـــان نـــاخبره وښـــوده، دا يـــې لـــومړي ځـــل اوريـــدلې خـــبره وګڼلـــه، مګـــر مـــوږ پـــوه وو چـــې تـــر شـــا يـــې يـــو څـــه شـــته بيـــا بيـــا بـــه مـــو پوښـــته خـــو هغـــه ځـــان يـــو خـــوا بلخـــوا ويســـته. د عرفـــان دي ديـــرې تـــه ورســـــيدو، څـــــو کټونـــــه ايښـــــي وو، پکـــــې پرتـــــو بالښـــتونو تـــه مـــو ډډې ووهلـــې، عرفـــان چـــاى پســـې كـــور تـــه لاړ. مـــوږ هغـــه لارې لټـــولې چـــې څنګـــه كـــولى شـــو پـــه عرفـــان د مچکـــې کيســـه وکـــړو؟ چـــې ګـــورو نورلحـــق چـــې د چرســـو عمـــل يـــې درلـــوده لـــه جيبـــه چـــرس او د ســـګرټو ډبـــى راوويســـت، عرفـــان بـــه هـــم کلـــه کلـــه چـــرس وهـــل خـــو داســـې پـــوخ عملـي

ketabton.com - The Digital Library



نــه و. نورلحــق وویــل: اوس بــه عرفــان خپلــه کیســه کــوي. یــو ســگریټ یــې لــه ډبي راوویســت تمبــاکو یــې تــرې پخپلــه لمــن کــې خــالي کــړل، بیــا یــې پــه نوکــانو چــرس میــده میــده کــړل لکــه د موږکــانو غــول او پــه خــالي ســیگریټ کــې واچــول پــه سر یــې لــه لمنــې لــږ تمبــاکو ورگــډ کــړل. عرفــان لــه چــای سره دیــرې تــه راغــی پتنــوس یــې کېښــود، پیــالې یــې ډکــې کــړې، عرفــان ورغــږ کــړ راځــه زمــا خــوا کــې کینــه! بالښــت یــې ورســم کــړ بیــا یــې دا ســندره ور شروع کړه:

ما درته چرس د لشکرگاه راوړي دینه

وه چرسي ملنگه یو چره دار سیگرټې جوړ کړه

نورلحــــق ډېــــر خــــوږ غــــږ هــــم درلــــوده، د عرفــــان احساســـات یـــې راوپـــارول او د ســـیگرټي ځکولـــو تـــه یـــــې امـــــاده کـــــړ. نورلحـــــق دوه درې دوده کـــــش

ketabton.com - The Digital Library



کړل،بیا یې نوبت عرفان ته ورکړ، خپله یې د بل سیګریټ په څکولو پیل وکړ. عرفان له چرسو شنه دودونه جیګول، نورلحق سیګرټی څکوه، موږ چای څښه. عرفان د نیم سیګریټ له څکولو وروسته نورلحق ته سیګریټ وړاندې کړ هغه د لاس سیګریټ پورته کړ چې زه ځان ته دا څکوم. سیګریټی ټول عرفان وڅکه، سترګې سرې شوې یو یو ټوخی به یې پرې کوه

نورلحق عرفان ته وویل: ستا ماماګان ډېر بد خلک دي تاته د مچکې مسی وایي اخر ولې؟ ټوخه، ټوخه ،ټوخه له څو ټوخیو وروسته عرفان وویل: لس کلن به وم چې د کاکا زوی سره مې د کلا په حویلۍ کې توشلې کولې،په توشله مو لانجه شوه هغه به ویل: په خط ده، ما به ویل: له خط اوختې په دې وخت کې مې مور راغږ

ketabton.com - The Digital Library



کــړ: عرفانــه راځــه چــې کــالي دې بــدل کــړم چــې بابــا کــره ځــو! د بابــا دي کــور تــه د تــګ پــه خوشــحالي کــې مــې توشــله ســمیر تــه پریښــوده او د مــور خواتــه مــې منــډه کــړه! مــور مــې راتــه کــالي راخیســـتي و، کـــالي مـــې بـــدل کـــړل او پـــه خوشــحالۍ د بابــا دي کــور تــه لــه خپلــې مــور سره روان شــوم. مــا او مــور مــې هــرو دوو هفتــو کــې یــو ځــل بابــا کــره تلــو. لــه پــنځلس دقیقــو پیــاده مــزل وروســته د بابــا دي کــور تــه ورســیدو، هېــره دې نــه وي چـــې پـــه لاره شـــنې د تـــوت ونـــې هـــم ولاړې وې چــې د مرغــانو اوازونــه تــرې راتلــل، مــا بــه د لینــدۍ یــو یــو ټــک پــرې هــم کــوه. نیــا مــو پــه حــویلۍ کــې کـــالي وینځـــل مـــور مـــې ســـلام ورواچـــوه، هغـــه راجیګـــه شـــوه دواړه یـــې ښـــکل کـــړو. بابـــا مـــې د انګـــور څپـــرې لانـــدې پـــه کـــټ کـــې ناســـت و، د حــویلۍ پــه ښــکته سر کــې، راغــږ یــې مــړل بچیــه

ketabton.com - The Digital Library



ستړې مه شې! ما مې د مور وړکې پند په برنډه کې خطا کړ! ورسره سم هماغه میدان ته د لوبو لپاره لاړم! چې تاسو پکې ماته واوریدل د مچکې مسیه ښه یې؟ دا خبره ماته په دې ځای کې له ماشومتوبه کیدله. په دې میدان کې به هر وخت ماشومان په لوبو بوخت وو، دوه درې ځایه به پکې مشران ناست وو، د ماشومانو لوبې به یې کتلې، یا به یې غورې کولې. زه چې د لوبو لپاره همدې میدان ته ورسیدم: چې ګورم درې مشرانو دوه ماشومان په غیږه وروستي دي، په ماشومانو نارې وهي راچپه یې کړه! زه هم وروسیدم له مشرانو یوه ماته وکتل او نورو ته یې وویل: هغه دی د مچکې مسی هم راغی بیا یې یو زما همزولي ماشوم ته ګوته ونیوه دی به ده ته په غیږه ورشي. ما ته به هر وخت دلته د مچکې مسی ویل کیده خو داځل یې خوند را

ketabton.com - The Digital Library



نــه کــړ، بیرتــه مــې د بابــا کــور تــه منــډه کــړه! یــوه مشر راغږ کړ ودریږه! ودریږه! ډارنه! تښته مه!

ځـان مـې پـه یـوه سـاه د بابـا کـور تـه ورسـوه. بابـا بـه مـې چـې کـور کـې و نـو تـل بـه د انگـورو تـر سـپرې لانـدې پـه کـټ کـې ناسـت و. نـن يـې هـم پـر بالښـت ډډه وهلــې وه، لــه چــای ډکــه پیالــه یــې د کــټ پــه پښــه ایښــې وه. پــه منــډه ورغلــم، ځنــگ تــه یــې پــه بیــړه کیناســتم، بابــا مــې پــه ترخــه لهجــه وویل:پــام! پیالــه بــه چپــه کــړې! او ځنگــه ورخطــا یــې؟ چــا سره خــو دې جنــگ نــه دی کــړی؟ مــا پــه غوســه نــاک او ژړغــوني انــداز ځــواب ورکــړ: بابــا ماتــه هــر وخــت دلتــه ولــې خلــک د مچکــې مسی(لمســـی) وایـــي؟ څپــرې لانــدې د چنچڼــې بچــي پــر کــړ. الوتــل یــې غوښــتل خــو نــه شــو الــوتلی. بابــا مــې وویــل: لــه ځــالې رالویــدلی، د الوتلــو نــه دی، راپورتــه یــې

ketabton.com - The Digital Library



کــړه د دیــوال پــه هغــه ســوري کــې یــې ځالــه ده ، د کــټ پــه بــازو ودریــږه او بیرتــه یــې پــه ځالــه کــې کیــږده! همداســې مــې وکــړل، د بابــا ترځنــګ بیــا کیناســـتم. بابـــا پیالـــه راپورتـــه کـــړه، درې غـــټ مسلســل غړپونــه یــې تــرې وکــړل، پیالــه کــې لــږ چــای پــاتې و، راډکــه یــې کــړه، د کــټ پــه پښــه یــې کېښــوده. زمــا هــېڅ حوصــله نــه کیــده! بیــا مــې پوښــتنه وکړه:بابـا ماتــه خلــک ولــې د مچکــې مســې وایــي؟ لــه غوســې ډکــه خنــدا یــې وکــړه، ځــه د چــا خــبرو تــه غــوږ مــه نیســه خپلــې لــوبې دې کــوه. نــه بابـا ماتــه بــه حــتماً وایــي. پــه شــدت یــې وویــل کیســه اورې؟ هــو. غــوږ شــه! نــن نــه لــس دولــس کالــه مخکــې د مســجد پــه لاوډســپیکر کــې اعــلان وشــو: لــه ټولــو کلیوالــو څخــه هیلــه کیــږي چــې خپلــې تــذکرې د ملـــک کـــور تـــه راوړي، د موسیســـې انجیــنران راغــلي د تــذکرو لــه ثبتولــو وروســته بیــا

ketabton.com - The Digital Library



مــواد ورکــول کیــږي. زه پــه دې ورځ کــور کــې نــه وم ښــار تــه تللــی وم. زوی مــې نــه درلــوده ســتا مــور پیغلــه وه، ټولــو کلیوالــو تــذکرې د ملــک کــور تــه وروړلــې لــه ثبــت وروتــه بیرتــه تلــل. ســتا نیــا زمــا د راتــګ لاره څارلــه چــې اوس بــه راځــي، اوس بــه راځــي، پــه انتظــار انتظــار کــې یــوه بجــه شــوه،زما درک نــه لګیــده. د نیــا دې نــور صــبر نــه و شــوی زمــا تــذکره یــې اخیســتې وه، د ملــک کــور تــه تللــې وه، کلــه چــې هلتــه لاړه د تــذکرو د ثبــت پروســه ختمــه وه، د کــلي خلــک خپلــو کورونــو تــه تلــلي و، انجیــنران د ملــک پــه حجــره کــې ډوډۍ تــه ناســت و، نیــا چــې دې د ملــک کــور تــه ننــوتې ملــک دروازه کــې پــه مخــه ورغلــی، حجــرې تــه روان و . زمــا تــذکره یــې ورتــه نیــولې چــې ملــک صــیب دا انجینرانــو تــه ورکــړه. ملــک پــه تنــده لهجــه ورتــه وویــل: د ثبــت پروســه ختمــه شــوې، هغــوی ډوډۍ

ketabton.com - The Digital Library



ته ناست دي ډوډۍ خوري نور ځي. هغې ورته زارۍ شروع کړي زموږ غريبي خو تاته معلومه ده دا تذکره ثبت کړه، څرنګه چې ملک هغه وخت ډېر يو بد انسان و، ستا نيا ته يې ويلي و: تذکره درته په انجينرانو په يو شرط ثبتوم چې ته به ماته يو مچکه راکوې! څڅڅڅه؟ نيا په ډېره په دا سر و نه ويشت!؟ په ټوپک د ويشتلو و خو بچيه ميرمن د غريبۍ غيم او بل دې د نيا ساده توب هم ځانته يو څه وايي. ملک ته يې مچکه ورکړې وه، بيا ملک ټول کلی خبر کړی و چې د ادم خان ښځې ماته مچکه راکړه! بابا تاته ملک په ټوپک و نه ويشته؟ ټوپک چيرته و بچيه د نيا له ډبولو دې وروسته. تبر مې له بوسخانې راواخيست، ملک پسې ووتم چې سره يې پرې غوڅ کړم! ډېر په غوسه له دروازې ووتم. د حيرانتيا خبره ده په همدې غوسه کې

ketabton.com - The Digital Library



چې عقل مې هیڅ کار نه کوه یو سوچ ذهن ته راغی چې ته خو د دوښمنۍ وس نه لرې راځه د مچکې غچ په مچکې واخله. هر کله چې د ملک ښځه په مخه درغله مچکه ترې واخله سبا به درته څوک گوته هم نه شي نیوی او پیغور نه به هم خلاص یې. همداسې اراده مې وکړه تبر مې بیرته په بوسخانه کې یوه دیوال ته ودراوه، له قهره ډک په خپل کټ کې کیناستم. بیا به نو د ملک د کور مخ ته چټې تلم او راتلم. که گوندې موقع په لاس راشي او د ملک له ښځې مچکه واخلم. ملک هم رابانديې یوه شوی و، چې د غچ ترې دی. خپله ښځه یې له بې ځایه گرځیدو منع کړې وه، ورځې تیریدې بدبختي وه نو او بدبختي داسې شی دی چې یو ځل یې راکلک کړې بیا دې نه پریږدي. یوه ورځ پخپل هدف پسې د ملک د کور مخې ته تیریدم، د

ketabton.com - The Digital Library



ملک د کور دروازه خلاصه شوه، گورم یو چادري کړې ښځه ترې راښکاره شوه خوشحاله شوم او ځان سره مې وویل: ادم خانه لکه چې کار دې وشود دیوال خواته پټ ودریدم. ښځې چې له درشل نه پښه راواړوله پرې ټوپ مې کړ چې چادري مې ترې کش کړه گورم چې کومه میلمنه ده شاته ورپسې نارینه هم راروان و، هغه چې دا حال ولیده زه یې له گریوانه ونیوم او څو مسلسل سوکان یې په ککره راکړل، ما ځان ترې پر خوارۍ خلاص کړ او منډه مې کړه. خو د هغه سړي دا غږ مې واوریده: زه او ته به حساب سره کوو. دا خلک له بر کلي راغلي وو، د ملک د وریرې ریباري یې کوله. زه له خفگانه تور اوختی وم. خو د هغو خلکو د کور ودان وي چې په اصلي کیسه پوه شول ماته یې بخښنه وکړه. زه د ملک نه د غچ اخیستو ضد لا

ketabton.com - The Digital Library



وپړسولم! خپلې هڅې مې کولې خو برابرې يې نه خوړلې. په ورځو کې يو ورځ ګورم چې ستا پلار ستا د مور غوښتو لپاره ريشته راولېږله. ستا بابا د خپل کلي ملک او د څو کليو د ملکانو ريس و، ډېر لوی خان و، سل جريبه ځمکه يې لرله. ما ستا د پلار ريشتې ته انکار نه شو کولی بلکې ورخطا وم چې ژر هو ورته وکړم چې پښېمانه نشي. په همدې وخت کې مې د خپل کلي ملک راياد شو. او سوچ راغی چې زه بايد له دې ريشتې نه په ګټه خپل انتقام واخلم. راغلې مرکې ته مې وويل زه په دې ريشته هېڅ اعتراض نه لرم، خو يو ځل هلک له نږدې ګورم. د ليدنې ورځ مو سبا وټاکله، د سهار له ناشتې وروسته ستا د پلار ملاقات ته لاړم. د مجلس په مينځ کې مې ستا پلار راجيګ کړ، د هغې غټې ويالې خواته لاړو چې ستاسو د کور نه لاندې

ketabton.com - The Digital Library



روانــه ده. د ویــالې تــر خــوا کیناســتو، و مــې پوښــته بچیــه رښــتیا، رښــتیا بــه وایــې زمــا د لــور لپــاره مرکــه ســتا د پــلار پــه خوښــه راغلــې وه او کــه تــا رالیږلــې وه؟ ســـتا پـــلار د شرم احســـاس کـــوه غوښـــتل یـــې چــې ووایــي د پــلار پــه خوښــه مــې مرکــه درغلــې، مــا پــرې تاکیــد وکــړ حقیقــت بــه نــه پټــوې. پــلار دې مــخ لــه مــا واړوه او پــه شرمنــاک انــداز یــې وویــل: مرکــه مــا درلیږلــې. پــوه شــوم چــې د مینتــوب یــو څــه شــته. زیاتــه مــې کــړه د دې ریشــتې لپــاره زمــا یــو شرط پــوره کــولی شــې؟ ســتا پــلار زمــا لاســونه پــه خپلــو لاســونو کــې ونیــول او ښــکل یــې کــړل و یــې ویــل: زه هــر شرط تــه تیــار یــم خــو کاکــا جانــه انکــار و نــه کــړې. مــا یــې پــه سر لاس کــش کــړ، تــا نــه ښــه زلمــی پــه ټــول جهــان کــې نشــته خــو زمــا هــم مجبــوري ده بایــد چــې شرط مــې پــوره شي. ســتا پــلار د شرط غوښــتنه وکــړه چــې تــه خــو دې شرط بیــان کــړه. مــا

ketabton.com - The Digital Library



ورتــه تولــه کیســه وکــړه، بیــا مــې ورتــه وویــل هــر کلــه چــې دې مــا تــه داســې زمینــه برابــره کــړه چــې زه د ملــک لــه بنــځې مچکــه واخلــم لــه هماغــې شــېبې وروســته زمــا لــور ســتا میــرمن شــوه. ســتا پــلار د بــر کــلي د ملـــک زوی و، ډېـــر خانـــان وو، د هغـــوی لپــاره د هــر څــه اســان و، ژمنــه یــې وکــړه چــې د شرط بــه دې زه پــه هــر قیمــت پــوره کــووم. خپلــې هڅــې یــې شروع کــړې، ملــک پــه هــر څــه پــوه و خپلــه ښــځه یــې بیــرون نــه پرېښــوده. زه خــبر نــه وم چــې پــلار دې لــه خپلــو ملگــرو سره یــو خطرنــاک پــلان جــوړ کــړی و ډېــر یــو خطرنــاک پــلان. یــوه غرمــه وه هــوا گرمــه وه د گرمــۍ لــه لاســه خلــک بــې ضرورتــه بیــرون نــه وتــل ځکــه پــه کورونــو کــې پکــي چــالان وو او بیــرون د پټیــو تپونــه وو، صــحرا کــې چوپــه چوپتیــا وه، خلــک کورنــو کــې وو چــې د یــوې درنــې چــاودنې غــږ واوریــدل شــو. خلــک تــول پــه

ketabton.com - The Digital Library



کورونــو کــې وويرېــدل، ماشــومانو چيغــې کــړې لــه کــلي لانــدې پټــي وو صــحرا وه، تــرې اخــوا ســيند بهېــده، د چــاودنې پــه ځــای کــې يــوه تــوره لــوخړه تاويــده، لــه لــږ ځنــډ وروســته خلــک د چــاودنې ځــای تــه ور روان شــول. تــر ځــو ځــان خــبر کــړي چــې څــه کيســه ده. زه هــم لــه خلکــو سره ملگــری شــوم، چــې د چــاودنې ځــای تــه ورســېدو گــورم چــې ســتا پــلار او څــو ملگــرو يــې پــه يــوه څــادر کــې غوښــې راټــولې کــړي چــې نــه پکــې سر معلوميــده نــه پښــې نــه لاســونه فقــط غوښــې او مــات هــډوکي وو، کليوالــو پــه ورخطــايي ســتا پــلار نــه پوښــتنه وکــــړه دا څــــوک دی؟ او څــــه کيســــه ده؟ پــــه خواشــينۍ سره يــې مــخ کليوالــو تــه واړوه او و يــې ويــل: مــوږ هغلتــه د ســيند پــه غــاړه ناســت وو غــوړې مــو کــولې، ملــک صــيب دلتــه پــه پټــې اوبــه اړولــې وې ، د پټــي پــه پولــه گرځيــده چــې يــو درز شــو

ketabton.com - The Digital Library



مـورِ ووېريـدو سرونـه مـو ټيـټ واچـول. چـې پورتـه مـو وکتـل د ملـک صـيب غوښـې پـه هـوا کـې تاويـدې، ژر ژر مـو رامنـډې کـړې، خـو ملـک صـيب ټوټـه، ټوټـه شـوی و، او دا غوښـې مـو ورتـه را ټـولې کـړې ځينـو کليوالـو ماتـه بـد بـد کتلـې چـې پـه مچکـه يـې سـړی مـړ کـړ. خـو ځينـو کليوالـو بـه ورغبرکـه کـړه دی راډيـو نـه شي چـالانولی بـم بـه څـه والـوزوي. کليوالـو شـا و خـوا کتلـې چـې د ملـک پـاتې غوښـې راټـولې کـړي د ملـک راټـولې شـوې غوښـې مـو پـه څـادر کـې د ملـک کـور تـه يـوړې. حکومـت راغـی تحقيقـات يـې پيـل کـړل. پـه هيڅـا يـې شـواهد پيـدا نـه کـړل. د ملـک ورونـو هـم وويـل مـورِ لـه هيڅـا سره بـدي نـه لـرو د ملـک غوښـې مـو تـابوت کـې واچـولې، د مـازيګر پنځـه بجـې يـې جنـازه اعـلان شـوه. لـه جنـازې وروسـته مـو پخپلـه پلرنـی هـديره کـې خـاور تـه وسـپاره. پـه

ketabton.com - The Digital Library



سبا یې ورونو ورپسې یو غټ خیرات اعلان کړ. ورځې تېرېدې څلویښت شپې تېرې شوې، د ملک د میرمنې ورونه راغلل خپله خور یې له ځانه سره کور ته یوړه. ملک اولادونه هم نه درلودل چې میرمن یې پرې ناسته وای نو ځکه یې ورونو له ځانه سره یوړه. پنځه شپږ میاشتې تېرې شوې، یوه ورځ ستا پلار زه خپلې دیرې ته وغوښتلم، زه د دیرې په لور روان شوم چې ورسیدم گورم د دیرې په کټونو کې د ملک اوښي گان ناست دي، ستا پلار سره په خنداگانو، خنداگانو خبرې کوي، کله کله د خنداگانو کړسا دومره زور واخلي چې په وجه یې په د ولاړو ونو له څانگو د چنچڼو د الوت شور جوړ شي.زه ورغلم له سلام وروسته په یو خالي کټ کې کیناستم. ستا پلار د ملک اوښي گانو ته مخ ورتاو کړ بیا یې ماته گوته ونیوه او و

ketabton.com - The Digital Library



**یـــې ویـــل: دغـــه دی. ټولـــو پـــه کـــړس وخنـــدل لـــه خنـــدا وروســـته د ملـــک مشرـــ اوښـــي وویـــل: زمـــوږ قبول دی**

**بیـا خنـداګانې شـوې. سـتا پـلار د ملـک اوښـي ګـانو سره خـــبره کـــړې وه چـــې د درې لکـــه افغـــانیو پـــه بـــدل کـــې خپلـــه کونـــډه خـــور ماتـــه راکـــړي. همداســـــې وشـــــول هغـــــوی درې لکـــــه افغـــــانۍ واخیســـتې او خپلـــه خـــور یـــې ماتـــه راوســـپارله. خـــو سـتا پـلار وویـل: یـواځې مچکـه بـه تـرې اخلـې نکـاح بـه دې یـوه میاشـت وروسـته تـړل کیـږي. کـلي کـې اوازه خپـــره شـــوه چـــې ادم خـــان د شـــهید شـــوي ملـک ښـځه ځانتـه پـه نکـاح کـړه ، دا یـې ډېـر غلـط کـــار وکـــړ، د ملـــک ورونـــه لـــه غوســـې سره او شـــنه کېـدل، رنګارنـګ خـبرې کیـدې چـا بـه بـد ویـل چـا بـه ویـل ښـه یـې وکـړل کـه یـې دده ښـځه نـه وای**

ketabton.com - The Digital Library



مچه کړې ده به نن دا کار نه کوه. ورځې تېرېدې میاشت لا نه وه پوره، اوازه خپره شوه چې ملک ژوندی کور ته راغلی. کلیوال ټول حیران وو او په حیرانتیا د ملک کور ته روان وو چې دا څنګه کیسه پېښه شوې؟ هر چا به چې ملک نه د کیسې پوښتنه کوله هغه به یې ځواب کې یواځې ویل: مچکه. خلکو فکر کوه چې ملک ته رواني تکلیف پیدا شوی، زما د مچکې ارمان پوره شوی و، ځان سره مې وویل: که هرڅه پیښېږي زه هم د ملک لیدو ته ځم،روان شوم ، ور ورسیدم ، خلکو غاړې ورکولې د ژوندي پاتې کیدو مبارکي ګانې یې ورکولې. ما هم په غیږ کې ونیوه او سر مې ورته په اوږه کېښود، غوښتل مې ورته ووایم د مچکې غچ مې په مچکه واخیسته خو له ما مخکې ماته وویل: مچکه ژر مې ځواب ورکړ وا مې خیسته.

ketabton.com - The Digital Library



**ما په حیرانتیا وپوښتل: بابا ملک له کوم ځایه راغی؟ چیرته و؟ هغه په بم باندې څوک الوتی و چې غوښې یې زما پلار او ملګرو یې په څادر کې ټولې کړې وې؟ او د ملک ښځې سره دې څنګه چل وکړ؟ د ملک ښځې سره زما نکاح نه وه تړل شوې هغه مې په ښه عزت ور وسپارله او دا پاتې پوښتنې دې په کور کې له پلاره وکړه. منډه مې کړه د مور خواته مورې څه چې ځو کور ته هله ژر کوه، بچیه څه کیسه ده لیونی شوی یې؟نیا مې له برنډې غږ کړ په هلک څه وشول؟ مور مې ځواب ورکړ نه پوهیږم له بابا نه یې یو دم رامنډه کړه، نیا مې بابا ته وکتل بابا مې وخندل. مور مې په سر لاس کش کړ،بچیه! چې هلته یو کلک نښتی یې چې بابا کره ځو اوس چې دوه ساعته مو د راتګ نه کیږي وایې بېرته ځو.هو مورې! حتماً کور ته ځو. ولې**

ketabton.com - The Digital Library



لیــونی شــوی یــې؟ هلتــه بــه هغــوی وایــې پــه دې غرمــه ولــې راغلــی را ویــې شــړلی؟ ځــه بیــرون لــوبې وکــړه سـبا لخیــره ځــو. نــور نــو هــېڅ نــه کېــدل بغیــر لــه انتظــاره تــر ځــو ورځ تېــره شي شــپه تېــره شــې او سـبا شي چــې خپــل کــور تــه لاړ شــو. د بابــا کــور ځــای نــه راکــوه ورځ مــې پــه یــوه خــواری تېــره کړه،شــپه شــوه، ډوډۍ وخــوړل شــوه، ماتــه ډوډۍ خونــد نــه راکوه،بابــا تــه بــه مــې چــې وکتــل خنــدل یــې نــور یــې ځــه نــه ویــل. د خــوب لپــاره بســترې تــه لاړم خــوب نــه راتــه پــه ځــای کــې اوخــتم را اوخــتم دې پوښــتنو مــې ذهــن نیــولی و: ملــک لــه کومــه ځایــه ژونــدی راغــی؟ هغــه غوښــې د چــا وې چــې پــلار مــې او ملگــرو یــې راټــولې کــړې وې؟ شــپه مــې تــر ډېــره پــه ســوداگانو ویښــه وه، یــو وخــت پــه ځــان نــه وم پــوه شــوی، ویــده شــوی وم ســهار یــې چــای تــه لــه خوبــه ویښ کــړم خوشــحاله شــوم چــې اوس بــه

ketabton.com - The Digital Library



کور ته لاړ شو. د سهار ناشته مو وکړه زه مې مور ته شله ونښتم چې څه چې څو. مور مې حیرانه وه چې په دې هلک څه وشول خو د تګ اراده یې وکړه، چادرې پسې کوټې ته لاړه چادري یې لاس کې وه او د نیا خواته روانه شوه چې خدای پا امانې ترې واخلي. رخصت مو واخیست، د خپل کور په طرف روان شولو. ما شاته بابا ته وکتل خندل یې مخ مې ترې تاو کړل او د لارې په طرف سیخ شوم. په لاره ونې وې، ونو کې چینچڼې وې، لینده رانه بابا کره پاتې وه، زه سودا نیولی وم، لیندۍ پسې واپس نه شوم، روان وو مور به مې بار بار غبږ کوه لږ ورو څه! له شل دقیقو مزل وروسته کور ته ورسیدو، کوټې ته مې ورمنډه کړه بدبختانه پلار مې ویده و، سر ته یې کیناستم د ده د راویښیدو په انتظار کې به مې داسې حرکات تر

ketabton.com - The Digital Library



سره کـــول چـــې د یوچـــا د راویښـــېدو ســـبب کیـــدل. خـــو داســـې کلـــک ویـــده و چـــې هـــیڅ راویښـــیده نـــه. یـــو ســـاعت بـــه منتظـــر وم چـــې پـــلار مـــې پـــه اړخ واوښـــت او خپلـــې ســـترګې یـــې خلاصـــې کـــړې. کیناســـت لاســـونه یـــې خـــلاص کـــړل غزونـــه یـــې وکـــړه، د وجـــود تـــاو یـــې وویســـت، ماتـــه یـــې وکتـــل، ولـــې مـــې سرتـــه ناســـت یـــې؟ ګـــډ وډ ښـــکارې خیـــرت خـــو بـــه وي؟ د بابـــا کـــړې کیســـه مـــې ورتـــه وکـــړه، خـــو اصـــلي برخـــه یـــې تاتـــه پریښـــې ده، ویـــې خنـــدل، کیســـه یـــې پیـــل کـــړه: د غرمـــې یـــوولس بجـــې وې چـــې ملـــک تـــه مـــې زنـــګ وواهـــه، زنـــګ اوکـــې شـــو. ســـلام ملـــک کاکـــا، وعلـــیکم ســـلام. چیرتـــه یـــې؟ صـــحرا کـــې یـــم شـــولې اوبـــه کـــووم. پـــلار مـــې همـــدا اوس دیـــرې تـــه غوښـــتی یـــې. درغلـــم. زمـــا پـــلار یـــوازې زمـــوږ د کـــلي ملـــک نـــه و د څـــو کلیـــو د ملکـــانو ریـــس او د دې ســـیمې غـــټ خـــان و. هـــر څـــوک یـــې تابعیـــدار و،

ketabton.com - The Digital Library



تلیفون مو بند کړ، څو شیبې وروسته ملک راورسیده غرمه وه، خلک کورونو کې پکیو ته ناست وو، بیرون بې ضرورته نه گرځیدل. ملک چا نه و لیدلی، پلار مې ننگرهار ته تللی و، ملک مو له دیرې د کور زیرزمیني ته یوړه، کلک مو وتړه، له ملگرو سره هغه ځای ته لاړم چیرته چې ده شولې اوبه کولې، موږ مخکې تر مخکې پلان جوړ کړی و، یو بارودي غټ بم مو جوړ کړی و، ځان سره مو واخیسته ، لومړی هغه ځای ته لاړو چې تازه پکې چا یو مردار خر اچولی و، خره نه مو یو څه د غوښو ټوټې څادر کې واچولې، هغه ځای ته لاړو چې ملک شولې اوبه کولې، بم مو د ملک د پټې په پوله کې ښخ کړ، انفجار مو ورکړ، غرمه وه، گرمې وه، هیڅوک صحرا کې نه وو. د بم انفجار سره توره لوخوړه پورته شوه، بم انگازې کولې، له یو څه

ketabton.com - The Digital Library



ځنډ وروسته کلیوال د بم ځای ته راروان شول. مور غوښې تیارې په څادر کې اچولې وې. د خره د مخکینۍ پښې یوه برخه زما یو ملګري اسلم هلته په پوله لرې کېښوده. خلک را ورسیدل، مور نه یې د حال پوښتنه وکړه؟ ملک صیب دلته پټې اوبه کوه چې یو دم درز شو او بم پرې والوت، مور رامنډې کړې شا و خوا مو وکتل خو څوک مو تر سترګو نه شول، بیا مو په څادر کې د ملک صیب غوښې راټولې کړې، دې وخت کې یو کلیوال له لرې چیغه کړه: د ملک صیب د لاس یوه برخه دلته پرته ده کومه چې اسلم غورځولې وه، ورونو یې چیغې وهلې،ژړل یې. دلته مو بیا ملک صیب په زیرزمینې کې ښه غوړ ساته، په ټوله کیسه مو پوه کړی و، خو هیڅ یې نه شو کولی. کله چې زموږ پلان کامیاب شو ملک صیب مو خوشې کړ،

ketabton.com - The Digital Library



کور ته لاړ خو ستا بابا مچکه اخیستې وه، خاخا نو ماته ځکه خلک د مچکې لمسی وايي؟ هو د مچکې مسیه! نو یارانو ملک له هغې ورځې پس تبلیغ ته لاړ، تر ننه مسجد په مسجد گرځي خلکو ته یواځې دا پیغام رسوي: په ژوند کې هیچا ته په کمه سترگه مه گورئ. سپکاوی اوبې عزتي یې مه کوئ که څه هم هغه له تاسو نه په ډېره ټیټه کچه کې وي د الله ج نظام ډېر د عدل نظام دی یوه ورځ به همدې سړي ته موقع ورکړي چې تا نه د خپل سپکاوي بدل شه په اساني واخلي. په حقیقت کې الله ج یو انسان هم له بل نه کم نه دی پیدا کړی یوه ته یې هغه څه ورکړي چې بل ته یې نه دي ورکړي بل ته یې هغه څه ورکړي چې لومړني ته یې نه دي ورکړي زه به تاسو ته په دې باره کې یوه لنډه کیسه وکړم: یو پاچا وو اولادونه یې نه وو، خو د

ketabton.com - The Digital Library



نـوکر یـې دولـس اولادونـه وو ، پاچـا بـه کلـه کلـه ویـل کـاش د پاچـاهۍ پـه ځـای خـدای ج اولادونـه راکـړي وای خـو نـوکر لـه اولادونـو زړه تـوری و، د پاچـاهۍ تـږی و، د انسـانانو تـر مینـځ لـوړوالی او ټیټـوالی غـرور او حـرص رامینځتـه کـړی غـرور پـر مـوږ وایـې: پلانکـی زمـا پـر وړانـدې هـیڅ دی مگـر حـرص بیـا پـر مـوږ وایـي: پلانکـي تـه اللـه ج ډېـر څـه ورکړي او ماته یې هیڅ نه دي راکړي.

موږ باید قناعت وکړو قناعت.

پای

لغمان الینگار الوخېل خپل کور

بختیار نیازی

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*